# دافغانستان د څیړنی خبرپاڼه

دافغانستان د څیړنی او ارځونی د داری خبرپاڼه

نهمه ګڼه، اپریل ۲۰۰۲

## په دی ګڼه کی


اوسنۍ څیړنې او سرچینې. - ۲

د ملی خطر او زیان منلو ارځونه، ۲۰۰۵ کال ۲

د معیشت او غیر رسمی کریدیت په هکله د افغانستان د څیړنی او ارځونې د اداری څیړنه ۲

د آلتای د مشوره ورکوونکی اداری د بازارونو څیړنه ۴

غوره خپروني ۵

انکشاف ۵

اقتصاد ۵

ټول ټاکنی ۶

د کورنیو قانون ۶

د خواړو حفاظت ۷

روغتیا ۷

عدالت ۸

د ځمکو نیونه ۸

څاروی ۸

تریاک ۹

عامه مالیه ۹

مهاجران ۹

احساییه ۱۰

اوبه ۱۰

ښځي ۱۱

د افغانستان د څیړني او ارزوني اداری نوی او راتلونکی خپرونی ۱۱

غوری بریښنا پاني، او لستونه ۱۳

د چاپیریال د انکشاف زرکلن هدفونه پر ځاي کول ۱۴

نورې خپرونې ۱۶

د ځنو دولتی او غیر دولې د څپرونو د لړی په هکله معلومات ۱۶

عدالت: د عدلی وزارت میاشتنی حقوقی او فرهنګی خپرونه ۱۶

نن ورځنی افغانستان ۱۷

د مرستو بریښنا پاڼه ۱۸


د دغې خبر پاڼې موخه د افغانستان په اړه له نویو څیړنو څخه لوستونکي خبرول دي او د نورو خپرونو او څیړنو له پایلو سره مرسته کوي، دا د افغانستان د څیړني او ارزوني اداره له موخه څخه ده چې دغه خبرپانه په پرله پسې توګه نشر کړي، د بیلابیلو څیړنیزو خپرونو نقلونه په انټرنټ کی ترلاسه کیدلای شي، او تاسو کولای شې دا خبرپاڼه له لاندی بریښنالیك څخه ترلاسه کړۍ. newsletter@areu.org.af

# اوسني څېړني او سرچيني

**دا برخه چې اوس له چاپه راوتلې د څېړنيزو پروژو او له اړوندو سرچينوسره وړاندې کيږي. ټول هغه معلومات چې په دی ګڼه کې وينی، په انفرادی کسانو يا سازمان پورې اړه لري او ښايي ددغو پروژو حالت د خپرونې دچاپ پرمهال بدلون موندلې وي.**

**د ملی خطر او زيان منلو ارځونه، ۲۰۰۵ کال**

**د کليو د پراختيا او بيا رغونې وزارت او مرکزی سر شميرنی دفتر د داسی پريکړه کولو په حال کې دی چې د ملی خطر او د زيان منلو د ارځونی د اداری د ۲۰۰۵ کال ټول معلومات په عامه ټوګه خپاره شي، د خوارو د مسؤنيت او د آيودين لرونکي مالګې په هکله مؤقته تحليلونه شوی دی، خو دغه معلومات به د کورنيو په کچه او د سپيځلی ډيټا د تيارولو له پاره بيا وکتل شي.**

**بريښنا پاڼې ته د دغې اداری د ۲۰۰۵ کال د ډيټا د پورته کولو پلان لا وختی نيول شوی دې، تر څو کاروونکی خپلی پوښتنی تشريح کړی او کولاې وشې چې دغه معلومات سم د لاسه له بريښنا پاڼې څخه ترلاسه کړې. هيله ده چې دغه به د کاروونکو اړتياوی پوره کړی، خو د هغو کاروونکو لپاره چې غواړی بشپړی ډيټا ته لاس رسنه ولری، نو د دغی اداری د ۲۰۰۵ کال د ډيټا د غوښتنی پاڼه دی په لاندنی بريښنا پاڼه کې ډکه کړی:**

www.mrrd.gov.af/vau/NRVA_2005.htm

**او يا د له دغی بريښنا پاڼې را ښکته کړی،**

mrrd.gov.af/vau/NRVA%2005%20DownloadsNRVA%202005%20Data%20request%20form.doc

**د دغې اداری د ۲۰۰۵ کال د سروی په لړ کې چې د افغانستان د ټولو ولسواليو (پرته له شپږو ولسواليو) د بازارونو بيې راغونډې شوی په دغه راپور کې تحليل شوی دی: د ملی خطر او زيان منلو د ۲۰۰۵ کال برآورد: د کليو د بازار بيې/ د سر شميرنی مرکزی دفتر او د کليو د بيا رغونی او پراختيا وزارت، (د خطر د تحليل اداره) کابل: د سر شميرنی مرکزی دفتر او د کليو د بيا رغونی او پراختيا وزارت ۲۰۰۶ کال. ۲۶ مخه ۳۰ س. م. رنګه نخشی؛ چې د ۴ ميګا بايت په اندازه د نخشو په لرلو سره له لاندنی بريښنا پاڼې څخه لاس رسيدونکي دی.**

www.mrrd.gov.af/vau/NRVA%2005%20Downloads/NRVA%202005%20District%20Market%20Price%20analysis.doc. (It contains a lot of maps hence its large size of 4 MB.)

## د معيشت او غير رسمی قرضو په هکله د دغی اداری څېړنه

***(فاطمه د هرات ښار څخه يوه ۴۵ کلنه کونډه) زه کونډه يم، او کله چې زما خاوند مړشو زما زوی ايران ته ولاړو. هغه پيسی نه درلودي نو ځکه يې زمونږ ځمکه ګرو کړه. کله چې زما زوی په ايران کې وو نو زما ورور زمونږ خرڅ را کاوو، کله چې ما خپله لور واده کړه نو په هغو پيسو مې خپله ځمکه له ګروی څخه خلاصه کړه. زما زوی چې له ايران څخه را ستون شو هغه له ځانه سره هيڅ پيسی را نه وړی ځکه چې هغه په هيروينو اووښتی وو. دلته هغه غوښتل چې د سودا ګری دنده شروع کړی نو ځکه يې له دوستانو څخه پيسی په پور واخيستلی، خو سودا ګری يې هم پر مخ بيولای ونشوه، يو ځل بيا يې ځمکه ګرو کړه هغه. اوس بوټونه ګنډی/موچې دی، يوه ورځ کار کوی او څو ورځی د هغه له عايد څخه کار اخلی. زه د نورو***

*خلکو په ځمکو کار کووم او د خپل د کار په بدل کې غنم او داسې نور حاصل لاسته راوړم. زما زوی دما له ورور څخه چې په بازار کې دکان لري ۳۰۰۰۰ افغانۍ پوروړی دی. زما ورور موږ ته بوره، غوړی او وريژې راکړې دي.*

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري د ۲۰۰۵ کال جولای څخه د همدغه کال تر ډیسمبر پورې د بلخ، کاپیسا، غور او هرات ولایتونو په یوه کلي کې د غیر رسمي د قرضو د شرایطو په هکله څېړنه وکړه. د دغې څېړنې موخه د کلیواله معیشت په ستراتیژۍ کې او مخصوصاً د ټولنیزو او مالي دارایې په بڼه د غیر رسمي قرضو د رول پوهیدل دي، لکه، د کلي د خلکو تر منځ پور ورکول او پور اخیستل، د خپلوانو تر منځ، یا د دکاندار او د پیرودونکې تر منځ او یا د ځمکې د خاوند او د بې ځمکې کسانو تر منځ. نو ځکه دغه څېړنه به د غیر رسمي کریډیټ شرایط او دا چې دغه شرایط څنګه کولای شي ټولنیزه اړیکې جوړې او ټینګې کړي وڅېړي

پورتني قضیه د کورنیو د اخښلې معیشت د شیوو د آلې یو تر ټولو ښه مثال دی، هغه رول چې کریډیټ په معیشت کې لوبوی، او دا چې کورنۍ د پور د بیرته ورکولو له پاره له څه شان شیوو څخه کار اخلي. دغې کورنۍ په راز راز ډولونو سره خپل ژوند پر مخ بیولی دی، له مهاجرت او غریبۍ څخه نیولې د ځمکو پر سر تر کار کولو پورې. مهاجرت ته دې ټک له پاره د ځمکې ګرو کول؛ او کله چې د اعتیات له کبله هغه پیسې بیرته تادیه نشوې نو د دغه کورنۍ د لور د واده په پیسو باندې ځمکه له ګرو څخه خلاصه شوه. دغه تجربې د کورنیو د پور اخستلو ځنې عام دلایل په ګوته کوي. نور مثالونه یې په دغه شان دي؛ د کورنۍ ورځنۍ لګښتونه، روغتیا، د واده لګښتونه، او کله ناکله د نوې تجارت د پیل کولو او یا د مهاجرت لپاره. په ځنو سیمو کې چې کورنۍ جنګ ځپلې له کبله ډیر کورونه وران شوي دي نو خلک د کورونو د بیا جوړولو لپاره پور اخلي.

د پور اخستلو لپاره د تضمین درلودل ضروري خبره ده، لکه، د ځمکې لرل، او یا دا چې په کورنۍ کې پیغله نجلۍ موجوده وي، او یا د دغه شان نورو ارزښتمنده سرمایې درلودل. د څېړنې په سیمو کې له پیغلې نجلۍ څخه د سرمایې په شان استفاده عامه خبره وه، دا په دې معنی چې که نجلۍ واده شي نو د ولور اخیستل د پور تضمین کیدلای شي. که چیرې څوک دغه شان تضمین و نه لري نو باید چې له ټولنې او دوستانو سره ښې ټولنیزې اړیکې ولري چې له هغو څخه د پور د اخستلو له پاره کار واخلي او اکثره د پور د بیرته ورکولو له پاره هم د ډیر اجبار لاندې نه رازي. د نمونې په شان:

په هرات کې یوه ۳۵ کلنه ښځه داسې وایي؛ *زه د خپل له کاکا څخه پوروړې یم او پنځه کاله کیږي چې د هغه پیسې بیرته نشم ورکولای، او هغه بیا هم ما ته پور راکوي، که چیرې هغه پور رانکړي نو زه خامخا له نورو خلکو څخه پور اخلم او دا د ما د کاکا لپاره ننګ دی چې زه له نورو دکاندارانو څخه پور واخلم.*

د خپلوانو او دوستانو څخه پرته د پور اخستلو بله لویه زیرمه دکانداران دي. ځکه چې دکانداران دواړه خان او بې وزله ته پور ورکوي. دلته داسې پوښتنه منځ ته راځي چې ولې دکانداران کورنیو ته او خصوصاً بې وزله کورنیو ته پور ورکوي: دغې څېړنې دوه دلیله راپیدا کړل: ۱) په کلیواله سیمو کې دیر پیرودونکي نشته، نو ځکه دکانداران باید له پیرودونکو سره ښې اړیکې ولري او د دغو اړیکو د ساتلو او د پیرودونکو د درلودلو لپاره باید پور ورکړي. ۲) او له بلې خوا دا چې، کله چې خلک جنس په نغدو پیسو واخلي نو په ټیټه بیه یې اخلي او که چیرې په پور یې واخلي نو د اصلي قیمت څخه به یو څه لوړ وي. په دې معنا چې د دکاندار ګټه زیاتیږي.

په ځنو سیمو کې د پور د اخستلو لپاره د ځمکې لرل ډېره مهمه مساله ده. که یوه کورنۍ ځمکه ولري نو هر څوک ورته د ځمکې په ګرو کولو سره پور ورکوي د دې لپاره چې ښايې له ځمکې څخه ګټه واخلي، ځنې خلک دغه ګټې ته سود وايي. چې که چیرې پور ورکوونکې ځمکه په ګرو اخلي چې له حاصل څخه یې ګټه واخلي نو اساساً هغه سود خوري. سره له دې چې په افغانستان کې د سود خوړلو څرګنده سیستم نشته خو زیاتو هغو خلکو چې په دغه څېړنه کې مرکه ورسره وشوه د پور ورکولو په معامله کې دغه شان ګټه سود وګڼله، که چیرې هم نور خلک ورسره موافق نه وو. ښايې چې دا له دغه مسالې سره چې دکانداران چې جنس په پور ورکوي نو له هغه څخه چې په نغدو پیسو یې ورکوي په لوړه بیه خرڅوي هم وتړو.

موضوعي څېړنه چې د دغه موضوع له مخې پیل شوې ده، د پور د ادا کولو تر ټولو عامه لاره د نجلۍ د واده پیسې دي. او نورې لارې هم په دغه شان دي: د ورځنۍ اړتیاوو لپاره چې پور اخستل شوی دی په یو او بل فصل کې ادا کیږي؛ له درمنده څخه وروسته؛ د کرنې څخه پرته لار ی؛ لکه د کورنۍ تولیداتو په خرڅولو سره، لکه کورت، ژیړ غوړي او یا خامک دوزي؛ ګاونډیو هیوادو کې او یا د افغانستان سترو ښارو کې د مزدورۍ له لارې؛ او د ځمکې په ګرو کولو سره. او بله لار دا ده چې خلک د یوه پور د ادا کولو لپاره بل پور اخلي، او د پورونو داسې پیچلې لاره جوړوي چې خلاصون یې ترې نشته. زیاتو خلکو بیا د کورنۍ له غړو څخه لوی پور هم تر لاسه کړی دی، چې دا د پور اخستلو او پور ورکولو ټولنیزه اړخ ښکاروي چې یو کس څنګه کولای شي چې د نږدو اړیکړ څخه کار واخلي چې د کورنۍ د معیشت د حفاظت لپاره ډېره مهمه مساله ده.

> لیکونکې: د دغې اداري د څېړنو مرستیالان، بصیر نادر، فوزیه رحیمي او ساغر وفا. د لا زیاتو معلوماتو لپاره له پولا کانتور د څېړنو لوړرتبه مسؤلې سره په تماس کې شي.
> paula@areu.org.af

## د آلتای د مشوره ورکوونکې اداري څخه د بازارونو څېړنه

د آلتای مشوره ورکوونکې اداري په نژدې تیر وخت کې په بین المللي بازار کې د افغاني د لاسي صنایعو، د اوبدل شویو صنایعو، د جواهرو، فرنیچر او سینګارولو څیزونو، د ارزښت په ټاکلو باندې کار کاوو. دغه پروژه د اوسمحاله تولیداتو او د پروسې په مسند کولو باندې بوخته ده، او غواړي دغه شان تولیداتو له اصلي وارد وونکو، بنجاره، او غونډ پلورونکو سره په تماس کې شي تر څو د دغه تولید په هکله د هغوی فکرونه راغونډ کړي. په افغانستان کې د اقتصادي شرایطو له کبله زیات تولیدونکي د خپل د صنعت د ساتلو او د تولیداتو د پیرودلو لپاره هلې ځلې کوي. نو ځکه د دغې پروژې مقصد دا دی چې له ښځینه تولیدونکو سره د داسې تولیداتو په جوړولو کې مرسته وکړي چې په بین المللي بازار کې وپلورل شي، چې دا به د هغوی لپاره او د هغوی د کورنۍ لپاره عایدات ور په برخه کړي.

په دغه بریښنا پاڼه کې څو پي ډي اف شوي مواد دي چې د هرې صنعتي سیمې لنډه سروې وړاندې کوي:
http://www.altaiconsulting.com/handicrafts/
د صنایعو د مارکیت اټکل د التاي پخواني څېړنه چې د ملګرو ملتو د انکشافي پروګرام له پاره د کوچنیو او منځنیو شرکتونو د انکشاف په هکله چې د افغانستان د اقتصاد ټاکل شویو برخو باندې اجرا شوې وه، بشپړه کړې.

دغه تګ لاره په لاندنیو برخو کې د سوداګرۍ د فرصتونو د پیژندنې لپاره د فعال بازار په ژور تحلیل باندې بوخت وو.

- د مرغانو ساتنه
- زاپران او زیره
- غمی
- د معماري او د معماریو د کوچنیو موادو خدمات
- د غنمو تولیدات
- کشمیره او
- سابون، شامپو او د کالو مینځلو پودر.

د دغې څېړنې لاسته راوړنې څېرې شوی دی.

له دغې اداری څخه د کجکی د برېښنا د بند، د ښوونې د لګښتونو، د انرژی او خصوصي سکتور څخه د کار اخستلو په هکله راپورونو څپاره شوی دی.

| |
|---|
| د لا زیاتو معلوماتو لپاره دغه برېښنا پاڼه وګوری<br>www.altaiconsulting.com |

# غوره خپروني

په دغه برخه کی دهغو تازه څېړنیزو خپرونو مهمې برخې چی دافغانستان د څېړنې او ارزونې اداري تردی دمه او یا د ۲۰۰۶ کال د پسرلی په پای کې ترلاسه کوی نشرته سپارې.

## انکشاف

*Afghanistan National Development Strategy: an interim strategy for security, governance, economic growth & poverty reduction: volume 1*/ Islamic Republic of Afghanistan. Kabul: Islamic Republic of Afghanistan, 2006. 231 p.; 30 cm. One of the most important strategy documents for the coming years in Afghanistan. Available from: http://www.ands.gov.af/main.asp

*National Area-Based Development Programme: phase two (2006-2008)*/ Islamic Republic of Afghanistan, United Nations Development Programme. [Kabul]: United Nations Development Programme (UNDP), 2005. 52 p.; 30 cm.

د ملی سیمه ییزه انکشافی پروګرام د دوهمی مرحلی هدف دا دی چې د ټولنې د قوی کولو او د هغوی د اړتیاوو او اولویتونو لپاره د هغوی د ړغ اوچتولو په واسطه د خواری د له منځه وړلو او په افغانستان کې د کلیواله معیشت په ښه کولو کې، او دولت ته د کلیواله بیا رغونې او پراختیا د یو لاس، د خلکو تر نظر لاندی، او د ګډې حمایې په توان ورکولو کې، برخه واخلی.

## اقتصاد

*The investment climate in Afghanistan: exploiting opportunities in an uncertain environment.* Washington, D.C.: World Bank, South Asia Region, Finance and Private Sector, 2005. 65 p.; 30 cm.

د دغه څېړنې په وینا اساسی ګواښ دا دی چې په بازار کې ګډون پراخ شی او د نویو پانګی اچوونکو له مخې خنډونه لیری شی او د هغو لپاره چې لا وختی په بازار کې ګډون لری د لا زیاتی پانګی اچونی لپاره تشویق شی. د افغانستان په پنځو ښارونو کې د ۳۳۸ شرکتونو سروی پر بنسټ، دغه راپور په افغانستان کې د خصوصی سکتور د انکشاف د ګواښونو تحلیل وړاندی کوی. تر ټولو مرغومې خنډونه چې دغو شرکتونو را په ګوته کړل د برېښنا او د ځمکی نشتون دی. او په خاصو حالاتو کې فساد او د مالیاتو لاس رسنی ته هم اشاره شوی وه. دغه راپور په لاندنی برېښنا پاڼه کې لاس رسونکی دی: www.worldbank.org/af.

*Papers from the Conference on Regional Economic Cooperation, Kabul 4–5 December 2005*

As well as the Kabul Declaration (5 December 2005), the website for this conference makes available the following

supporting documents based on research about transport and trade potentials for Afghanistan.

- *Findings of industry research on Afghanistan: presentation to Private Sector Development Donor Roundtable*/ OTF Group (November 2004, 82 p.). [Industry research on carpets, lambskins, wool, cotton, raisins, nuts, apricots, marble and essential oils].
- *Commercial Competition Commission of Afghanistan (CCCA): three cluster discussion document, September 14, 2005*/ OTF Group (September 2005, 24 p.) [Industry research on dried fruit and nuts, marble and stone industry, Afghan carpets].
- *Report on border and customs related facilities and procedures in Afghanistan: prepared as a discussion documents for the Second Meeting of the Trade and Customs Working Group, Bangkok 13-14 December 2005* (60 p.)
- *CSATTF customs cooperation briefing report*/ Central and South Asia Transport and Trade Forum (CSATTF), Trade and Customs Working Group (TCWG) (October 2004, 65 p.)
- *Toward harmonization and modernization of transit transport agreements among the Central and South Asia Transport and Trade Forum (CSATTF) countries: draft final report*/ Asian Development Bank, Central and South Asia Transport and Trade Forum. (November 2005, 126 p.)
- *Report on the economic impact of Central-South Asian road corridors, March 2005/* Central and South Asia Transport and Trade Forum (CSATTF)/ this report was prepared by Mohiuddin Alamgir (79 p.)
- *Prospects for regional development and economic cooperation in the wider Central Asia Region: discussion draft (November 25, 2005): paper prepared for the Kabul conference on Regional Economic Cooperation, December 4-5, 2005* (29 p.)

دغه ټولې پاڼې په لاندنۍ برېښنا پاڼه کې لاس رسیدونکې دي:

http://www.afghanistan-mfa.net/RECC/index.html

## ټول ټاکنه

*Bandoliers and ballots: security and the Afghan Presidential election of 2004*/ Nur Laiq. Unpublished thesis (Master of Philosophy in Modern Middle Eastern Studies), Faculty of Oriental Studies, Oxford University, 2005.

په افغانستان کې د ټول ټاکنې مفکوري یو څه ناڅه اثر کړی دی. نمونه یې داچې عادلانه ټول ټاکنې بشپړی شوی، په چاپیریال کې لا طالبان شته خو بیا هم د دموکراسی یو څه لیدل کیږی. دغه مسایل لا تر اوسه هم د یو مسؤنه چاپیریال په اوسیدنه ندی بدل شوی. لا اوس هم افغانستان د هغو ګروپونو د ورځنی پرخاشکری له لاسه ټپی کیږی چې غوښتنه یې د ټول ټاکنو ګډ وډی او یا له سیستم څخه ایستل دی. لکه چې د افغانستان به اړوند د متحده ایالاتو د ملی امنیت ستراتیژی او د دیموکراتیک کولو تیوری کومه چې د یموکراسی ته د امنیت نوم ورکوی، کار ندی کړی. امنیت ټینګ شوی نه دی او دا په تیوری کې د کومې ستری غلطی له کبله نده بلکه د درو ټړلو دلایلو څخه دی چې په اوسنی شرایطو پوری اړه لري.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره د دغه راپور له لیکوونکی سره په دغه برېښنا لیک کې په تماس کې شی: nurlaiq@yahoo.com.

## د کورنیو قانون

*Family structures and family law in Afghanistan: a report of the fact-finding mission to Afghanistan, January-March 2005*. [Hamburg]: Max Planck Institute for Foreign Private Law and Private International Law, 2006. 22 p.; 30 cm.

د دغه هیات مقصد دا وو چې په افغانستان کې د کورنیو جوړښت او د کورنیو د قانون په هکله اساسی معلومات تیار کړی. د ملی، بین المللی او غیر حکومتی د دفاترو له مامورینو سره له دوه سوو څخه

زیاتره مرکې وشوې. څنګه چې دغه په افغانستان کې د کورنۍ قانون په هکله د پروژې لمړنۍ سیمه ییزه څېړنه وه، نو دغې څېړنې یو څه تجربوې بڼه درلوده.

دغه هیات د ۲۰۰۵ کال له جنوري څخه تر مارچه پورې له نو ولایتو – کابل، کندهار، هرات، بلخ، بدخشان، بامیان، ننګرهار، کندز، او پکتیا څخه کتنه وکړه. له هغو اشخاصو سره چې مرکه وشوه؛ قاضیان، څارنوالان، د حقوقو او د شریعت د پوهنځیونو د قانون ښوونکي، د دولتي اورګانونو مامورین، د راز راز بین المللي او غیر دولتي موسسو غړي، د سیمه ییزه جرګو او محلي وګړي وو. چې ۶۰ فیصده یې نارینه او ۴۰ فیصده یې ښځې وې، او له شلو څخه نیولې تر ۷۰ کلن پورې یې عمر وو، چې له ټولو ټولنیزه طبقو څخه ول.

دغه راپور په دغه بریښنا پاڼه کې لاس رسیدونکې دی:

http://www.mpipriv-hh.mpg.de/deutsch/forschung/LaufendeProjekte/Afghanistan/afghanistan.htm

د ۲۰۰۶ کال په اوږدو کې، په افغانستان کې د کورنۍ قانون او د کورنیو د قانون په هکله د درسي کتابونو د تولید یو لړ پرله پسې سیمینارونه هم پلان شوي دي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره لاندنۍ بریښنا لیک سره په تماس کې شي:

Afghanistan.project@mpipriv.de

## د خوارو حفاظت

*Food security situation in Afghanistan.* Kabul: Action Aid, Afghanistan, 2005. xi, 45 p.: maps; 25 cm.

د دغه راپور تحلیل په اوو بیلا بیلو برخو: مخالفت، د خوارو تولید/مصرف، د سرچینو شته والی/ او هغو ته لاس رسنه، زیربنا، خواري او معیشت، بازارونه او د خوارو مرسته، ویشل شوی ده. د دغه څېړنې لوړی لاسته راوړنې په لاندې ډول دي:

- د افغانستان ۲۰ فیصده نفوس هره ورز ۲۱۰۰ کیلو کالري مصرفوي.
- د حبوباتو حاصلات په لویه کچه له للمیو ځمکو څخه دي، چې د لسیزو جنګ جګړو او وچکالۍ د اوبو لګونې په سیستم باندې ژوری اغیزې پرېښې دي.
- محدوده ساتنه او د ټرانپورټي آسانتیاوو نشتون د ۱۳ فیصده خوارو د ضایع کیدو سبب ګرځي، چې د هیواد د خوارو لړوالي نږدې دوه برابره کوي.
- د خوارو بې کنټروله واردول قیمتونه ټیټوي، او د بزګرانو لپاره د حبوباتو په تولیدولو کې ستونځې را پیدا کوي.
- د ۱۹۹۵ او ۲۰۰۳ کلونو تر منځ د هغو خلکو شمیره چې څاروي یې پلورل د دری میلیونو په اندازه راټیټه شوه چې په ډېره مرغومې. توګه یې په کلیو کې او خصوصاً د کوچیانو معیشت او د خوارو حفاظت تهدید کړو.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره له لاندنۍ شمیرې او بریښنا لیک سره په تماس کې شي:

gb@actionaidafg.org / ۰۷۹۹ ۰۴۳ ۶۵۶

## روغتیا

*Health seeking behaviour, health expenditures, and cost sharing practices in Afghanistan*/ prepared by Johns Hopkins University Third-Party Evaluation Team. [Kabul]: [Johns Hopkins University Third-Party Evaluation Team], [2005]. vii, 52 p.; 30 cm.

دغه راپور د ناروغتیا، د روغتیا د پلټلو رویه، د پاملرنې خنډونه، د روغتیا لپاره شخصي لګښت او په افغانستان کې د قیمتونو د ویشنې لارې، د ۲۰۰۴ کال د ملي روغتیا د خدماتو د کارنامې د ټاکنې د برخې په بڼه، چې د افغانستان د عامه روغتیا د وزارت او د جانس هاپکنس د پوهنتون د ارځونې د دریمې پارټي په

مرسته راغونډې او بشپړ شو وړاندې کوي. دغه راپور په ملي کچه او همدارنګه په خاصه توګه په ۱۱ ولایاتو کې... سربېره پر دې چې د غیر حکومتي سازمانونو د روغتیایې خدماتو د تیاروونکو د بیو د ویشنې طریقې وړاندې کوي، د غیر دولتي سازمانونو غیر رسمي سروې چې د ۲۰۰۴ کال په دوبی کې بشپړه شوه، چې د ملي روغتیا د خدماتو د کارنامې د ټاکنې سره په یوه وخت کې راځي. د دغې کارنامې د نمونې په نظر کې نیولو سره، هغه ډېټا چې په راپور کې وړاندې شوې ده په افغانستان کې د روغتیا د پلټلو د طریقې د احسابیی وړاندې کوونکې نده؛ د دغو لاسته راوړنو د کتلو په وخت کې باید دغه مهمه یادونه په یاد کې وساتي.

*La santé des femmes et la coopération hospitalière canadienne en Afghanistan*/ Valéry Ridde. Published in *Revue Canadienne de Santé Publique = Canadian Journal of Public Health* v. 97 (no. 1) (January-February 2006), p. 60-62.

په دې وروستنیو کې د کیوبیک له متخصصانو څخه وغوښتل شو چې په کابل کې د ښځو او ماشومانو لپاره د دریم او ډېر خاص روغتون د جوړولو او وړاندې وړلو لپاره یوه پروژه حمایه کړي. د دغې غوښتنې هدف دا وو چې په داسې یوه پروژه کې د برخه اخیستلو ګواښونه تحلیل کړي. اساسي تجربه چې په لاس راغله هغه دا وه چې که چیرې هم بې فایدې وي خو د ضرورت په وخت کې دې په مرسته باندې ټینګار وشي.

## عدالت

*Field study of informal and customary justice in Afghanistan and recommendations on improving access to justice and relations between formal courts and informal bodies*/ Afghanistan Rule of Law Project, Checchi and Company Consulting. Washington, D.C.: Checchi and Company Consulting, 2005. 67 p.; 30 cm.

دغه څېړنه توصیه کوي چې غیر رسمي عدالت چې په جرګو او شوراګانو کې لیدل شوی دی، چې د مناقشې د حلولو لپاره مرسومې نورمونو څخه کار اخلي، د زیاتو افغانانو لپاره د لاس رسنې، پوهه او قانونیت لپاره د سپارښتنې وړ دی. خو بیا هم زیاتې هغه ستونځې چې په دولتي رسمي محکمو کې لیدل شوې دي په غیر رسمي سیستم کې هم شته. مساله دا نده چې د دغو سیستمو تر منځ د یو وټاکل شي، چې کوم یو به د بشر د حقوقو د نړیواله نورمونو د چوکاټ، د قانون رول او د موسسو قانونیت تضمین وکړي، بلکه دا چې د دواړو سازمانونو ضرفیت پر ځای ساتل دي تر څو خپل کارونه په ښه توګه وکړي او خپلوکړو وړو ته قانوني بڼه ورکړي.

## ځمکه/جایداد

*Informal settlements and land tenure issues: report on pilot project district #7: executive summary.* [Kabul]: USAID Land Titling and Economic Restructuring in Afghanistan (LTERA), 2006. 8 p.; 30 cm.

په افغانستان کې د ځمکو استحقاق او د اقتصاد د بیا رغونې برنامې او د متحده ایالاتو د بین المللی انکشاف نماینده ګۍ یوه داسې قاعده ګمارلې چې په افغانستان کې د غیر رسمي استوګنو مساله په ګوته کوي؛ داسې قاعده چې د اساسي خدماتو لوړیدل د جایدادونو تنظیم او په ښاروالۍ کې د دغو استوګنو رسمي کول، سره یو لاس کړي. دغه پروژې د جایداد د تنظیمولو د لوړو او ټولنیزو قاعدو د آزمایلو لپاره طرح شوې وي. هغه اساسونه چې ټینګار کوي چې دغه قاعده د ټولنې تر منځ ارتباط جوړوي د ټولنې د لا زیاتو کتو لپاره ټولنه دې ته هڅوي چې د خپلو د اړتیاوو په هکله سره خبرې وکړي.

## څاروي

*Production and marketing of red meat, wool, skins and hides in Afghanistan: a case study from Kabul, Kandahar and Kunduz*

*provinces/* Euan F. Thomson, Philippe Chabot, and Iain A. Wright. [Aberdeen, Scotland]: Macaulay Institute, Mercy Corps, 2005. vii, 56 p.; 30 cm. Bibliography, p. 43-45.

دغه د موضوعي څېړنې پاڼه د څارویو او د هغو د تولیداتو بازار او د تولیدوونکو احساسي تهدید چې د څارویو له تولیداتو څخه لوړه عایدات په لاس راوړي د نشه یي توکو د کرنې په مخه د ژوند ور یوه بله لاره، د یوې لنډې دری میاشتنی پروژې لاسته راوړنې، معرفي کوي. د دغې پروژې فوکس په پسونو، وزو او غوایو او په لږه کچه په میښو باندې وو، ځکه چې په وروستنیو پروژو کې په هغو باندې لږ فوکس شوی وو. دغې پروژې د غوښې، وړی، او پوستکي بازار او د څارویو او د هغو د تولیداتو لپاره په بازار کې د څارویو د ساتونکو پر مخ د خنډونو، د تقاضا بر آورد وکړ. له دغې بریښنا پاڼې څخه لا زیات معلومات تر لاسه کولای شئ: euan.thomson@talk21.com

## تریاک

*Exploring the "shades of grey": an assessment of the factors influencing decisions to cultivate opium poppy in 2005/2006.* London: Afghan Drugs Inter Departmental Unit, 2006. 32 p.; 30 cm.

دغه راپور هڅه کوي چې د نشه یي توکو د غونډو اندازو د لمړنی اندازه په بڼه په پام کې نیولو سره په افغانستان کې د نشه یي توکو پر ضد د مبارزې د فعالیت بر آورد وکړي. د سیمې دغه شان تصویر نه په هیواد کې د نشه یي توکو د کرنې توپیر او نه هغه کیفیتي بدلونونه چې په سیمه ییزه کچه پیښیږي، تر لاسه کولای شي. په عوض یې دغه راپور هغو ضعیفو تصاویرو ته چې د دغو شکلونو تر شاه دي، ګوري.

دغه راپور د څنو ولایاتو په شته منو ولسوالیو کې د نشه یي توکو د کرنې لړوالي ښکاروی خو همدارنګه د همدغو ولایاتو په لیری ولسوالیو کې، هغه سیمې چې د ژوند ور مشروع معیشت، حکومت، او امنیت پکښې ستونځمن دی، د نشه یي توکو د کرنې زیاتوالی هم په ګوته کوي. دغه راپور په لاندنی بریښنا پاڼه کې لاس رسونکي دی: http://www.fco.gov.uk/afghanistan/drivers2006

## عامه مالیه

*Afghanistan: managing public finances for development/* Poverty Reduction and Economic Management Sector Unit, South Asia Region. <1> v.; 30 cm. [Washington, D.C.]: World Bank, 2005. Bibliography, p. 99-101. "Report NO. 34582-AF"–cover. Contents: Volume 1: Main report (ix, 101 p.).

د افغانستان د عامه مالیې د اداری کتنه چې د نړیوال بانک، مرستندویه نماینده ګیانو، او د افغانستان د دولت په نږدې همکاری سره بشپړه شوه، اصلي مقصد یې دا دی چې، د افغانستان د عامه مالیې په هکله یو علمي، ژور، او عملي لاس رسیدونکې بڼه، راغونډه او وړاندې کړي، اوسمحاله پرمختک وګوری، اصلي ګواښونه تحلیل کړي، او د پر مخ تللو لپاره لاری وښیې او سپارښتنې وکړي. دغه اساسي راپور په څلورو نورو ټوکو کې بشپړ شوی دی، چې د عامه مالیې وزارت فعالیت او پیرودنی (دوهم ټوک)؛ لنډې اساسي مسالی (دریم ټوک)؛ د ټاکل شوی سکتور مطالعه (څلورم ټوک) او د امنیتي سکتور لګښتونه (پنځم ټوک) تر پوښښ لاندې نیسي. د لمړي ټوک د اجرایي خلاصه. په دغه بریښنا پاڼه کې لاس رسیدونکی ده: http://www.worldbank.org/sar

## مهاجران

*IDP return facilitation to Faryab: an assessment by the Norwegian Refugee Council.* Kabul: Flyktninghjelpen, Norwegian Refugee Council, 2005. 28 p.; 30 cm. "November 2005"–cover.

د دغه شورا د برآورد اصلي مقاصد چې د ۲۰۰۵ کال په جولای کې یو کاری ګروپ په کابل کې پرې موافقه وکړه دري وو: ۱) هغه خنډونه چې د افغانستان په جنوبي او لویدیځو سیمو کې د بې ځایه شویو کسانو چې په اصل کې د فاریاب دي، له راستنیدو څخه مخ نیوی کوي، وپیژني. ۲) هغه سازمانونه چې په همدغه اړوند فعالیت کوي وپیژني او له دې لارې د افغانستان په شمالي سیمه کې د راستنیدلو لپاره آسانتیاوې برابرې کړي. ۳) او د نوروی د محاجرانو شورا او نورو فعالینو ته د راستنیدو د آسانتیاوو لپاره عملي سپارښتنې وکړي.

د دغه برآورد معلومات له دریو سر چینو: له بې ځایه شویو کسانو او راستانه شویو بې ځایه شویو کسانو په مرکو څخه: د اصلي ځای (فاریاب) او هغه ځاي ته (هرات او کندهار) چې بې ځایه شوي وو د دواړو له اړونده دولتي ادارو او نماینده ګیانو له مرکو څخه، او د همدغو سرچینو د لیکل شویو موادو له مخې، او د راستنیدونکو بې ځایه شویو کسانو په اړونده قانوني قضیې او د نوروی د محاجرانو د شورا له د غړو له مرکو څخه، تر لاسه شوي دي. له دغه بریښنا لیک څخه لا زیات معلومات تر لاسه کولای شي: mark.choonoo@nrcafpk.org

## احصایه

د افغانستان د څېړنې او ارځونې اداری د افغانستان د ۱۳۸۴ (۲۰۰۵) کال وروستنی د احصایې کتاب تر لاسه کړی دی. دغه کتاب د افغانستان د دولت کتابونو ته د لاس رسني یو پیل دی. د رسمي ضروریاتو لپاره د دغه کتاب کاپیاني د احصایې له مرکزي دفتر څخه د شلو امریکایې دالرو په بدل کی لاس رسیدونکی دی.

*Statistics law: signed into effect 1st January 2006: unofficial English translation.* Kabul: [s.n.], 2006. 9 p.; 30 cm.

کله چې دغه قانون په رسمي جریده کې نشر شی نو د تیری د ۱۴۲۱، ۷۹۲ شمیری جریدی قانون به باطل کړی، او د مرکزی احصایې دفتر به د یو ناپاییلی اداری په بڼه چې د یو ملی احصایې شورا سره چې له لسو کسانو څخه جوړه شوی ده کار کوی. د هر مالی کال په پیل کې به د مرکزی احصایې دفتر د ډیرو مهمو نویو او د خپرولو وړ شمیرو نوی جدولونه به په همغه کال کې خپاره کړی. سر شمیرنه او د کرنی احصای یه به هم په هره لسیزه کی کیږی.

## اوبه

*"Lesson learning" from the transition between relief and development in Afghanistan: water sector institutional diagnosis*/ Nicolas Rivière. [Kabul?]: Groupe URD, 2005. 47, 6 p.; 30 cm. "September 2005"–cover. Bibliography, p. 4-6 (second group).

د اوبو لګونی دغه ټولنیزه موندنه او په عمومي توګه د اوبو د اداری ساحو مقصد دا دی چې:

- اوسني بنیادي شرایط، او همدارنګه تغیرات چې په تیرو کلونو کې شوی دي تحلیل کړی (له ۲۰۰۱ کال څخه وړاندې).
- د اوسنیو سهم نیوونکو، پروګرامونو او کړنلارو چې د افغانستان د اوبو په سکتور کی تری کار اخستل کیږی او له ۲۰۰۱ کال څخه را په دې خوا د هغه تدریجي تکامل، وګوری، او تحلیل یې وکړی.
- غیر حکومتي سازمانونه په خاصه توګه مطالعه کړی او د اوبو لګونی او د کرنی د سکتورونو اړیکی سره وڅیړی.

په پای کې د دغه څیړنې د تحلیل او ترکیب مقصد دا دی چې د اوسنی د اوبو د سکتور په هکله اړونده معلومات او خاصی لاسته راوړنی وکړی. ترڅو دغه د هوډ کوونکو او پریکړه کوونکو سره د هغو د پلان په

پروسه کې مرسته وکړي. دغه راپور غواړي چې رښتینې او اساسي عناصر تحلیل او وړاندې کړي: له دغه بریښنا لیک څخه لا زیات معلومات تر لاسه کولای شی: abanzet@urd.org

## ښځې

*Afghanistan: national reconstruction and poverty reduction: the role of women in Afghanistan's future*/ the World Bank. Washington, D.C.: World Bank, 2005. xvi, 133 p.: col. ill.; 23 cm. Bibliography, p. 129-138.

دغه راپور د جندر/جنسیت د توپیر د په ګوته کولو لپاره د دولت د کوښښونو د لاسته راوړنې د مقصد د خدمت لپاره دی. دغه راپور میشته معلومات سره یو ځای کوي او بحراني ساحې راپیژني چې په هغه کې به د جنسیت حساس فعالیتونه ښایې چې خوارې له منځه یوسي، ودې ته او د انسانانو سوکالۍ ته به قوت ور وبخښي. په افغانستان کې د جنسیت د تبعیض لمنه خپریدونکې ده، او دغه راپور په هغو اساسي سکتورونو باندې فوکس کوي چې په خاصه توګه د لنډې او اوږدې مودې د منځګړتوب لپاره غوره ګڼل شوي دي.

که څه هم د دغه راپور نیټه د ۲۰۰۵ کال د مارچ میاشت ده، خو داسې ښکاري چې دغه راپور د ۲۰۰۶ کال په جنوري کې خپور شوی دی ا و په دغه بریښنا پاڼه کې لاس رسیدونکې دی: www.reliefweb.int/library/documents/2005/wb-afg-31mar.pdf

### نوې قوانین

نوې قوانین چې له تیرې خبرپاڼې څخه را په دې خوا خپاره شوي دي.

۸۶۵ ۲۰۰۵/۱۳۸۴: د افغان تیلي کام سهامي شرکت اساسنامه او د ټرانسپورټي عرادو د سونک د موادو د لګښت په مقره کې تعدیلونه او ضمیمې

۸۶۴ ۲۰۰۵/۱۳۸۴ د تجارتي علایمو او اعلانونو ثبت

۸۶۵ ۲۰۰۵/۱۳۸۴ د تدارکاتو قانون

۸۷۱ ۲۰۰۶/۱۳۸۴ د ټولیزو رسنیو قانون

# د افغانستان د څېړنې او ارځونې اداري نوې او راتلونکې خپروني

## نوې خپروني

**په هلمند او غور کې د تریاکو د سوداګرۍ سیټم:** دغه پاڼه د ولایاتو او ولسوالیو په کچه په هلمند چې له ډیر وخت را په دې خوا کوکنار کرې او غور چې په دغه سوداګرۍ کې نوی راغلی، په دغو دواړو سیمو کې د د تریاکو بازار آزمایي.

**افغانان په پاکستان کې: سمه کتنه:** دغه معلوماتي پاڼه د درې میلیونه افغانانو حالت ته چې فعلاً په پاکستان کې ژوند کوي ګوري، او داسې استدلال کوي چې د مهاجرینو اوسنۍ جوړښت د دغو څو ملیتي اشخاصو واقعیت نه په ګوته کوي.

دوه نوې موضوعي څېړنې، **افغانان په پیښور کې:** مهاجرت، استوګنه او ټولنیزه شبکې او افغانان په کویټه کې: استوګنه، معیشت، حمایه کوونکې شبکې او د سرحدي کربښې پیوند، په هغو دوو ښارونو کې د افغاني مهاجرینو تجربې او هیواد ته د بیرته راستنیدلو او د استوګنې په هکله د هغو احساسات آزمایي.

**د ښوونځیو له دیوالو څخه هاخوا لیدل:** کورنۍ پریکړې او په ښوونځي کې نوم لیکنه، دغه معلوماتي پاڼه هغه دلایل چې موروپلار کوچنیان

ښوونځی استوی/ نه استوی څېړی، او دا چې څه شی په دغو پرېکړو باندی اغیزه لری.

د پنځو موضوعی څېړنو په لړی کې د ښاری بی وزله خلکو په هکله لمړی دوه موضوعی څېړنی خوار، لا خوار، تر ټولو لا خوار: په مزاری شرف کې ښاری معیشت او زیان منلو او د صنایعو نقصان، د خواری وده: په پل خمری کې ښاری معیشت، دغه څېړني هغه خاصی ستراتیژی څېړی چې د دغو دوو سیمو اوسیدونکو د خواری او بی کاری د فشار د له منځه وړلو لپاره په کار اچولی دی.

## راتلونکي خپروني

د افغانستان د څېړنی او ارځونی د اداری راتلونکې خپرونی په دغه شان دی:

- د محلی حکومت په هکله د دغی اداری د محلی حکومت د څېړنیزه ډلی څپرونی، د حکومت د ملی پیوستون د پروګرام او ولایتی جوړښتونه؛
- یوه لیکنه چې د اجناسو په هکله شپږ پر له پسی څېړنی سره یو ځای کوی.
- په کابل، هرات او جلال آباد ښارونو کې د ښاری معیشت او زیان منلو د اوسنی څېړنی په هکله د دغی اداری موضوعي څېړنی؛
- د پور او د پور اخستلو او پور ورکولو د غیر رسمی سیستم په هکله د دغه اداری څېړنی؛ او
- د اوبو د اداری، د تریاکو اقتصاد او د څارویو په هکله د دغی اداری د اوږد محاله څېړنی لمړنی لاسته راوړن.

### د افغانستان په هکله نوی او راتلونکی کتابونه



کابل په ژمی کې: په افغانستان کې له سولی څخه پرته ژوند / ان جونس. نیو یارک: د لویو ښارونو په هکله کتابونه، ۲۰۰۶ کال. ۳۲۱ مخه؛ ۲۲ س م. د دغه کتاب بین المللی معیاری شمیره ، ۹۷۸۰۸۰۵۰۷۸۸۴۸، ۰۸۰۵۰۷۸۸۴۳. د هغو لږو کتابونو له جملې څخه چې د افغانستان د طالبانو څخه وروسته شرایطو په هکله لیکل شوی دی. په دغه بریښنا پاڼه کې په انګریزی ژبه باندی لاس رسونکي دی: www.annjonesonline.com.

ښځې: سهمیه او سیاست/ تدوینوونکي ډروډی ډالرپ. لمړی ټوک. نیو یارک: روتلیج، ۲۰۰۶ کال. (د نسبتی سیاست په هکله د روتلیج څېړنه؛ ۱۰). په دغه کتاب کې یو فصل د په د دولت کې له جنګ څخه وروسته د جنسیت د سهمیې په نامه یادېږی؛ ختیح تیمور، افغانستان او عراق/ لیکونکی جولی بالګټن او ډروډی ډالرپ.

## غوری بريښنا پاڼي او لستونه

### په بريښنا پاڼه کې د افغانستان د کرنی او کليواله انکشاف په هکله د عملی څېړني خزانه
http://community.eldis.org/afghanistan

په افغانستان کې د کرنی او د کليواله انکشاف د ټولنی بريښنا پاڼه، چې لمړی د ۲۰۰۴ کال په خزان کې جوړه شوی وه، په دی وروستيو کې له نورو زياتو موادو سره نوی شوي دي، له پنځوسو څخه زياتی پاڼې، څېړنی او تبصری د خواړو د پاليسيو او د خواړو د حفاظت، څارويو او د شپنی مسايلو، کليواله ماليه، او نور موضوعاتو په هکله په دغه بريښنا پاڼه کې ځاي پر ځاي شوی دی. په دغه پاڼه کې د تمرکز دری اصلی ساحې موجودی دی:

- لمړی د کرنی په راز راز کوچنيو سکتورونو باندی لکه حبوبات، څاروی، کرن پوهه او اړونده موضوعاتو باندی تمرکز شوی دی
- په دوهمه پړاو کې په موضوعې مسايلو لکه جنسيت/جندر، مخالفت، سازمانونو، انکشاف او داسی نورو موضوعاتو باندی تمرکز شوی دی
- او په دريم پړاو کې داسی کوښښ روان دی چې ټولی هغه لاسته راوړنی چې د افغانستان په يوه خاصه جغرافيايې سيمه پوری اړه لری په يوه ځاي کی را غونډی شی.

د دغی بريښنا پاڼی دريځ نه دی بدل شوی. د دغه بريښنا پاڼې پيل د هغو ډيرو زياتو معلوماتو چې په افغانستان کې د کرنی د بيلا بيلو اړخونو او د کليواله انکشاف په هکله منځ ته راځی د تبادلی د آسانتياوو د برابرولو لپاره يوه هڅه وه. اوس دغه سايت د يو غير رسمی کار په بڼه د هغو ګروپونو له خوا چې په افغانستان کې يې د کرنی او کليواله انکشاف په راز راز اړخونو باندی کار کړی دی، پر مخ ځی. په اوس محال کې دغه بريښنا پاڼه کوم خارجی تمويلونکې نه لری، او يوازی د څو مينه والو اشخاصو له خوا اداره کيږی. د دغی بريښنا پاڼی په هکله د پوښتنو لپاره او يا که چيری تاسو سره داسی کوم اړونده مواد وی چې غواړی په دغه بريښنا پاڼه کې ځاي پر ځاي شی نو له دغه بريښنا ليک سره په تماس کې شي: philippechabot@earhlink.net .

### په بريښنا پاڼو کې د انکشافی کارکوونکو ټولنه
http://topics.developmentgateway.org/afghanistan

د افغانستان د بيا رغونی پاڼه د انکشاف د ور په آستانه کې بريښنا پاڼيزه ټولنه ده چې د انکشافی کار کوونکو تر منځ د معلوماتو ويشنی او مرستې ته ترقی ور بخښی په دغه پاڼه کې: له ۳۰۰۰ څخه زيات راپورونه، خبرونه او نوری زيرمی؛ خپل معلومات پکښی ځاي پر ځاي کړی؛ په مباحثو کې برخه واخلی؛ له نږدی ۶۰۰۰ انکشافی کار کوونکو سره په تماس کې شی؛ کاری اعلانونه او حساسی خبرتياوی؛ او د افغانستان په هکله ۱۷۰۰ انکشافی پروژو لست، تر لاسه کړی. د منظمه نويو موادو د لاسته راوړلو لپاره کولای شی چې د دغي پاڼی غړی توب بی له کومی تاديې څخه تر لاسه کړي.

### د افغانستان د مدنی ټولنی د ملی انکشاف د کړنلاری نوی ليست
http://groups.yahoo.com/group/NDSAfg

د افغانستان د مدنی ټولنی د ملی انکشاف د کړنلاری ګروپ چې د بين المللی او افغانی غير دولتی موسسو او ټولنيزه حرکت له ايتلاف څخه جوړه شوی يوه سر چينه ده چې د افغانستان حکومت ته د افغانستان د ملی انکشاف د کړنلاری (چې د خواری د له منځه وړلو د پاڼی په نام هم ياديږی) ځواب ورکړی. دغه کاری ګروپ د افغانستان د مدنی ټولنی د سازمانونو په زده ګړه او چمتو کولو باندی کار کوی چې هغوی ته د افغانستان د ملی انکشاف په کړنلاره کې د کار کولو توان ور وبخښی. د دغه ګروپ مقصد دا دی چې په دغه پروسه کې د کار کولو لپاره د امکان تر حده پوری د مدنی ټولنی کار کوونکی زيات کړی.

### اصلاح: فواد مسلم ورځ پاڼه

http://groups.yahoo.com/group/afghanistanNewsCenter

د دغی خبر پاڼی د ۲۰۰۵ کال د اپريل د مياشت په ګڼه کې موږ د افغانستان د شرايطو د پوهی لپاره يو څه ګټور خبری ګروپونه او بريښنا پاڼی ځاي پر ځاي کړی وی. د خبری خدماتو په لست کې د فواد مسلم ورځ پاڼی صحيح آدرس پورتنی دی (د دغه خطا لپاره بخښنه غواړو)

# غوره مطلب: د چاپیریال د انکشاف زرکلن هدفونه پر ځاي کول

بلینډا بولینګ او ډاکټر آصف علی زیدی[۱]

افغانستان یو وچکالی وحلی کرنیزه هیواد دی چې، اوسیدونکې یې په زیاته کچه په محیطی سرچینو، خصوصاً طبیعی سرچینو باندی تړلی دی. په داسی یو هیواد کې چې له ٪۸۰ څخه زیات اوسیدونکې د خپلو ورځنیو اړتیاوو لپاره په طبیعی سرچینو زړه تړلي دی، د چاپیریال متداوله زوال معیشت ته یو ستر ګواښ دی. له دوه لسیزو څخه زیاتی جنګ جګړي، نظامی فعالیتونه، مهاجرت، د ملی، ولایتی، او محلی حکومت سقوط، د اداري او بنیادی ظرفیتونو نشتون او بی حده استثمار د افغانستان طبیعی سرچینیو ته په ژوره توګه تاوان ور رسولی دی.

که چیری محیطی زوال ته پام ونه شی نو د افغانستان د اوسیدونکو په روغتیا باندی به بدی اغیزی پریږدی خواری او لوږه به لا زیاته شی. محیطی زوال او له بله پلوه د کرنی په سکتور کې د اقتصاد د ودی مخ نیوي، د خوارو خلکو، د هغو کورنیو چې مسؤلیت یې د ښځو په غاړه دی، چې غړی یې معیوب دی، بی ځمکې کورنیو او یا د هغو کورنیو چې ډیری کوچنی للمی ځمکی لری، په ژوند باندی منفی اثر کوی. اقتصادی انکشاف چې خوار خلک تر شا پریږدی او ویشونکې بی عدالتی زیاتوی د اعتماد ور نده او نتیجه به یې راتلونکې مخالفتونه وی. اکثره په افغانستان کې د محیطی زوال پایله د اجتماعي اقتصاد بی انصافی ده، ځکه نو د جاری بی امنی عامل ګڼل کیږی.

> **د افغانستان د ملي انکشاف ستراتیژي**
> www.ands.gov.af
> د افغانستان د ملي انکشاف د ستراتیژي د بریښنا پاڼي په هکله لنډ معلومات:
> د افغانستان د ملي انکشاف ستراتیژي په اصل کې د افغانستان د حکومت ستراتیژي دي چې د انکشاف، د عایداتو تولید او د خواري او د زیان منلو د له منځه وړلو لپاره چوړ شوي دي. د افغانستان د ملي انکشاف ستراتیژي د حکومت د پالیسي لپاره یو کاري پروګرام جوړ کړي دي او د سرچینو او برنامو تخصیص یې د دغو هدفونو لپاره ځاي پر ځاي کړي دي.
>
> **د افغانستان د ملي انکشاف د ستراتیژي هدفونه**
> د افغانستان اسلامي جمهوریت به د خپل د زرکلن انکشافي اهدافو راپو د ملګرو ملتو په نړیواله جلسه کې چې د نیویارک په ښار کې د ۲۰۰۵ کال د سپتمبر د میاشتي له ۱۴ څخه تر ۱۶ نیټي پوري ده، وړاندي کړي. په دغه راپور کې به افغانستان د اوس محاله انکشاف او د راتلونکي انکشاف د ارځوني په هکله معلومات ورکړي.
>
> (تاسو کولاي شي چې د افغانستان د ملي انکشاف د ستراتیژي په هکله له پورتني بریښنا پاڼي څخه په پښتو، دري او انګلیسي ژبو باندي زیات معلومات تر لاسه کړي).

## د جنګ جګړی څخه وروسته د چاپیریال انکشافی پلانونه

د انکشافی پلان او د خواری د له منځه وړلو په شرایطو کې د چاپیریال ساتنه د اووم انکشاف زرګلن هدف د اغیزمنه بشپړونی لپاره د خاص اهمیت لرونکی ده. د ۲۰۰۲ کال د ملی انکشاف په کارنامه کې چاپیریال د یو مهمه مسالی په بڼه وپیژندل شو. په دغه اړوند، د چاپیریال په هکله یو مشورتی ګروپ جوړ شو چې د چاپیریال مسایل په انکشافی اجندا کې ځاي پر ځاي کړی. خو په خواشینی سره د دغه جوړښت کامیابی ډیره محدوده وه.

---

[۱] بلینډا بولینګ په افغانستان کې د ملګروملتو د چاپیریال د پروګرام د چاپیریال د اداری د ظرفیت او سازمان د جوړښت د پروګرام د چاپیریال قانون او بین المللی مجلس استاذی ده. هغه اوس په کابل کې ده، او له اوو کلونو را په دی خوا په پر مخ تلونکو هیوادونو کې د چاپیریال د قانون او پالیسی په ساحه کې کار کوی. ډاکټر آصف علی زیدی په کابل کې د ملګرو ملتو د چاپیریال د پروګرام منیجر دی. او هغه د نوموړی موسسی، د ساتنی نړیواله اتحادیې، او د آغا خان انکشافی شبکی سره په مرکزی آسیا کې په انکشافی ساحه کې د پنځه لس کلونو را په دی خوا کار کوی.

د ملی انکشاف کارنامه به په راتلونکې کلونو کې د افغانستان د انکشافی ستراتیژی چې یو پنځه کلنه ستراتیژی ده چې انکشافی زرکلن هدف ته بشپړتیا وربخښی. دولت به د کلیواله انکشاف لپاره پلانونه طرح کړی تر څو بی وزله خلکو ته ګټه ور ورسوی او د هیواد د زیربنا د جوړولو لپاره، ترڅو د هیواد د اوبو سرچینی اداره شی او بازارونو ته لاره پیدا کړی. که څه هم دغه ستراتیژی به ادامه ولری، خو دا باید په یاد ولرو چې د دغه ستراتیژی په اول پړاو کې چې د زیربنا او د طبیعی سرچینو په هکله دی، چاپیریال د یو اساسی برخی په شان ګنل شوی دی او داښکاروی چې چاپیریال په انکشافی اجندا کې د یو اولویت په شان د انکشافی زرکلن هدف تر څنګ ځاي پر ځاي شوی دی.

## د زرکلن انکشافی هدف اوومه لاسته راوړنه

دغه اووم هدف د چاپیریال په اولویتونو باندی چې پایداره انکشاف او د خواری د له منځه وړل دی، تمرکز کوی. د دغه هدف کار دری نخشی او اته نښانې لری چې د ځنګلونو حالت، د بیلابیلو بوټو حفاظت، د قوت او توان په کار اچول، د کاربن دایکساید رایستل او د اوزون ګاز د کمولو د ماده څخه استفاده، د خامو نفتو استفاده، د څکلو اوبو، د پاکې سیستم، او امنی استوګنی ته لاس رسنه، څاری.

د دغه هدف د بشپړولو لپاره افغانستان له دوو اساسی خنډونو سره مخامخ دي: د چاپیریال په هکله د اساسی معلوماتو نشتون، او د زرکلن انکشافی هدف د بری لپاره د وخت لړوالی (چې عامل یې د زرکلنی اعلامیې د اتخاذ ځنډ دی). زیاتره معلومات د بین المللی موسسو په لاس کې دي، نه د دولت په لاس کې، او د ۱۹۷۹ د روسانو د اتحاد له وخت څخه مخکې پوری اړه لری. که څه هم دغه معلومات غښتلی وو، خو د ۱۲ کلونو په لنډ محال کې د دغو اهدافو په بشپړولو کې به دولت له خاصو ستونځو سره مخاخ شوی وو.

نو ځکه دولت دغه پروګرام ته افغانی بڼه ورکړی ده او دغه نړیواله موافقی یې د هیواد په خاصو اهدافو باندی اړولی دی، چې حقیقت او ابتکار سره تلی او د ملی انکشاف اولویتونه سره یو ځاي کوی. لکه چې د اووم هدف د هری نښی د هغو اساسی کلونو چې د بشپړونی لپاره یې ډیتا درلودله ښه شوی وو. سربیره پر دی، ځنی نښی د ۲۰۱۵ پر ځاي ۲۰۲۰ د بریالی توب نښه لری.

د دغه هدف د بشپړونی لپاره بل خنډ دا دی چې بین المللی کومکونه په لمړی پړاو کې په امنیت او دیموکراسی باندی مصرفیږی، او په خپله انکشافی سکتور کې زیاتره بسپنه ورکوونکې چاپیریال ته د ړومبی توب په سترګو نه ګوری. په خواشینی سره د ملی انکشاف د بودجې ډیره لږه برخه د چاپیریال لپاره اختصاص ورکول کیږی.

په چاپیریال کې بی ثباتی هم د چاپیریال د ساتلو په موخه یو خنډ ګرځیدلی وو. د چاپیریال اداره هم یو نوی خنډ وو، او د ۲۰۰۵ کال د می په میاشت کې د چاپیریال اداره د اوبو او چاپیریال د پخوانی وزارت څخه یوی نوی د ملی چاپیریال د حفاظت سازمان ته انتقال شوه، د غه یو نا پایښلی سازمان دی چې نیغ په نیغه ولسمشر ته راپور ورکوی. دغه سکتور د اوبو، بریښنا، کرنه، کانی موادو، ځنګلونو، بیالوژیکې نه ورته والی، عامه روغتیا، ښاری پلانونه، اوبه، فضله مواد او د پاکې خدماتو، او همدغه راز کارونو فرمان مربوطه وزارتونو ته استوی، او په خواشینی سره کله نا کله له حد څخه زیات وی. د نورو تازه کارو سازمانونو په شان، دغه سازمان هم د نوی حکومت له جوړښت سره د عیاریدلو لپاره، او له اړونده مسؤلو وزارتونو سره د خپلو اړیکو د څرګندولو لپاره وخت ته اړتیا لری.

د چاپیریال اړونده پالیسی یا د کاری قانون نشتون هم د چاپیریال د ساتنی لپاره د حکومت کوښښونه شنډ کړی دی. خو بیا هم، د چاپیریال د فعالیت ناڅاپه اعلامیه، د افغانستان لپاره د چاپیریال قانون به دغه انکشافی خنډ څه ناڅه

کم کړي. بر سیره پر دی چې دغه سازمان ته به هویت ور په برخه کړي او د حکومت له بیلا بیلو کار کوونکو سره د چاپیریال په سکتور کې د دغه سازمان اړیکو ته قانوني بڼه ور وبخښي، دغه فعالیت به د راز راز ژوو او بوټو او طبیعي سرچینو اداره او ساتنه، د اوبو د زیرمو اداره او ساتنه، د چاپیریال متحده اداره (سره د چاپیریال د اثراتو ارځونه)، د ناپاکي مخ نیوی او کنټرول، او د چاپیریال په هکله معلومات او زده کړه، ځاي پر ځاي کړي. په مهمه توګه، دغه فعالیت د موافقت او تعمیلولو تیاری ته چې د دغه سازمان د اغیزمنه کار لپاره ضروري دی، اړتیا لري.

د چاپیریال په هکله د بسپنه ورکوونکو له خوا تمویل شوی برنامې چې هیله ده له حکومت سره به د زرکلن انکشافي هدف د اوومي نښې په بشپړولو کې مرسته وکړي هم موجودې دي. د ملګرو ملتو د چاپیریال پروګرام، له حکومت سره د متحده پالیسي، قانوني او سازماني کارکولو (چې مهمه برخه یې د چاپیریاله فعالیت دی) په انکشاف کې مرسته کوي، چې د طبیعي سرچینو سمه استفاده، اداره، ساتنه او د چاپیریال بیارغونه به تشویق کړي. د ملګرو ملتونو د چاپیریال پروګرام همدارنګه له حکومت سره د چاپیریال د څو اړخیزه موافقتنامي په بشپړولو کې په کوم کې چې افغانستان د یوی پارټۍ په بڼه، په تیره بیا د زرکلن انکشافي د اووم هدف او د اقلیم د بدلون مجلس (د کاربن د رایستلو په اړوند) او د اوزون ګاز د کمولو د مادی د مونټریال پروتوکول، چې همداسې به د دغه هدف په بشپړولو کې مرسته وکړي. د اولویتونو د بیا ایښودلو او د انرجي د نوی کولو لپاره خاصي پاڼګې اچوني هم شوی دی.

د افغانستان لپاره د ځانګړي انکشافي کارکولو د پلان بریالي توب، چې د افغانستان بې ساری ضروریات، د چاپیریال او همدارنګه د افغانستان بین المللي قید او شرط پر ځاي کوي (سره له هغو چې د زرکلني اعلامیې تر عنوان لاندی دی)، د بشپړیدو په حالت کې دي.

---

# نوري خپروني

برسیره پر تازه خپرونو، زیات افراد، او سازمانونو لاندې خپرونې هم رالیږلي

یو لړ نورې انګریزي خپرونې او رپورټونه چې د کرنی، ټول ټاکنی، د کورنیو قانون، مالیه، عمومي/ د هیواد پرمختګ، تاریخ، ژبه، قانون، رسنې، مهاجرت، تریاک، سیاست، بیا رغونه، امنیت/ تروریزم، ښاري جغرافیه، ښځو په هکله دی او په دری ژبه چې د ښوونې او روزنې، ښځو، ادبیات، لرغون پیژندنه، تاریخ سیاست او دولت او خارونوالی په هکله دې له نورو دولتي او غیر دولتي موسسو څخه مونږ ته را استول شوی دی تر څو په دغه خبر پاڼه کې نشر شي. ځکه چې هغه خپروني په انګریزي او دری ژبو لیکل شوې دې نو یوازې د دغې خبر پاڼې په انګریزي او دری پاڼو کې نشر ته سپارل شوې دې تر څو له تکرار څخه ډډه وشې. د هغو نشریاتو لپاره دې د دغې خبر پاڼې انګریزې او دری کاپی ته مراجعه وشې. (ژباړونکي)

## د ځنو دولتي او غیر دولتي د خپرونو د لړی په هکله معلومات

## عدالت: د عدلی وزارت میاشتنی حقوقی او فرهنګې خپرونه

- اووم کال ۳۴/ ۳۵ ګڼه (د ۱۳۸۴ کال لیندۍ او مرغومۍ میاشتي). د ماشومانو روزنه او ساتنه/ ناظر حسین زکی (۳۶-۵۱ مخه). دماشومانو سره نیک سلوک ددوی په راتلونکی باندی ښه اغیزه لری / عبدالباری غیرت. (۵۲-۵۳ مخه). له شکنجی څخه دمخنیوی له پاره دبشر دحقوقو دنړیوال نظام تیاری : دوهمه برخه / حضرت ګل

حسامی. (۵۴-۶۲ص). دارتفاق حقوق په فقه اوقانون کی / سیف الرحمن ستانکزی. (۶۳-۷۰ مخه).

**نن ورځنی افغانستان : د شمال شرق / میدیوتیک کندز.**

- لمړی کال اوومه ګڼه (د ۱۳۸۴ کال د مرغومی میاشت):
  - ✓ سیاسی: سید جمال الدین دختیځ ستوري: سید جمال الدین افغانی وو که ایرانی؟ / ګلرحیم نیازمند. (۲۲-۲۳ مخه)

**جرګه / دسرحدونو اوقبایلو چارو وزارت.**

- ۱۸ ګڼه (۱۳۸۴): دډیورنډ فرضي کرښه نړیوال هویت نلري/ جرګه. (۱-۲ مخه). د افغانستان – هند ګډه اعلامیه/ جرګه. (۱۳-۱۵مخه). غازي ببرک خان ځدران/ عبدالرحیم ځدران. (۳۵-۳۸ص). د بشر د حقوقو د نړیوالي اعلامي د تصویب شرایط، محتویات او په دي اعلامي پوری اړوند میثاقونو ته یوه لنډه کتنه/ حضرت ګل حسامي. (۳۹-۴۷ مخه). زموږ په ټولنه کي د ښځو په وړاندي د ښځو لخوا تاوتریخوالي/ عاطفه نورستاني (۵۵-۵۸ مخه). لغمان/ رازقي نړیوال (۶۴-۶۶ مخه). دژبو کورني/ مولا جان تڼي (۷۰-۷۱ مخه). ځیني پښتو اصطلاحات/ وجیه الله شپون. (۷۲-۷۴ مخه) اکبر پادشاه اوبیربل/ ثنا تڼي. (۹۸-۱۰۰ص).
- ۱۹ ګڼه (۱۳۸۴): دسرحدونو، قومونو اوقبایلو چارو وزارت یو کلنیزه کاری رپورټ/ جرګه (۵-۱۰ مخه). د مخدره موادو د مخنیوي په برخه کي د افغانستان – امریکا دستراتیژیکي همکاري اغیزي / نعمت الله اندړ (۲۹-۳۱ مخه). د عبدالقادر خان خټک دژوندانه په مهال دلري اوبري پښتونخوا سیاسي بڼه/ عبدالرحیم بختاني (۳۲-۳۵ مخه). دمرحوم سید ګل پاچا الفت لنډه پیژندګلوي/ خلیل الله متین. (۳۶-۴۵ مخه). د خلکو ګروهني ټوټکي (انګیزي)/ ستاره یوسفزي. (۴۶-۴۸ مخه). دلوي استاد علامه عبدالحي حبیبي پښتو آثارو ته لنډه کتنه/ عبدالواجد واجد. (۵۳-۵۷ مخه). متلونه په څه راټولیږي/ محمد یعقوب احمد زي. (۶۹-۶۹ مخه) – د چترال د کالاش دقبیلي کړه وړه او لنډه پیژندګلوي/ محمد رقیب شیرزاد. (۸۱-۸۶ مخه).

**نړیوال رازقی.دلرغونی غور استحکامی کلاوی او د هغوی تاریخی پیښی / لیکوال رازقی نړیوال.**

**ښوونه او روزنه**

**افغانستان: دلوړو زده کړو وزارت په موسسو کی دشاملیدو آزموینی دلارښود پوښتنو ټولګه / دلوړو زده کړو وزارت دآزموینو کمیټه.**
**کابل : دلوړو زده کړو وزارت، ۱۳۸۴.**
۱۴۶مخه ؛ ۳۰ س م.
**د لوړو زده کړو وزارت دافغانستان اسلامی جمهوریت دکړنلاری او دوزارت دپالیسی له مخی دلوړو زده کړو په اړوند تل زیار باسی ترڅو دافغانستان دلوړو زده کړو په موسسو کی دشاملیدولپاره لازمی اسانتیاوی برابری کړی ترڅوچه دازموینی ګډون کوونکی وکولای شی خپلی ازموینی په بریالیتوب سره سرته ورسوی چه یو له دغو هڅو څخه دپوښتنو دټولګی چاپول ګڼل کیږی چه دلارښوونی اوتمرین لپاره آزموینو دګډون کوونکو په واک کی ورکول کیږی. په دی ټولګه کی په زیاته ګڼه پوښتنی دبیلابیلو څانګو په اړوند ترسترګو کیږی چه په هغو کی څلور عمده څپرکی لکه ریاضیات، طبیعی علوم، دینی اوټولنیز علوم او ژبی راغلی دی. (دکتاب دسریزی څخه).**

## آیا نه غواړۍ چې د افغانستان په هکله نوی او تازه معلومات تر لاسه کړۍ؟

د مرستو برېښنا پاڼه د بشری عاجلو پیښو او ناورینو په هکله معلوماتی پاڼه ده. د معلوماتو یوه ناپایيلی آله ده چې په خاص ډول د بشر بین المللی کمیټی د عاجلو مرستو په ښه توګه رسولو لپاره طرح شوې ده، همدا چې کومه پېښه کېږی دغه پاڼه په وخت سره سم، د اعتماد وړ، او اړونده معلومات وړاندی کوی، او همدارنګه په تیرو شویو عاجلو حالاتو باندی هم ټینګار کوی.

د www.reliefweb.int پاڼې په لاندی برخه کې "د مرستو له برېښنا پاڼی څخه د برېښنا لیکونو خدمات" وټاکۍ. او کله چې تاسو په ورستنی پاڼه کې معلومات درج کړل نو بیا "افغانستان" وټاکۍ. نو له هغه وروسته به تاسو هر هغه معلومات چې دغې پاڼی ته نوی ور پورته کیږی په خپل برېښنا لیک کې تر لاسه کوی. په دغه برېښنا پاڼه کې نخشی هم لاس رسیدونکي دی.

### په دی اړه موږ ته ووايې چې...

آیا تاسو داسې کومه څېړنیزه خپرونه لری چې د افغانستان له ټولنې سره یې شریکه کړۍ؟ موږ د افغانستان د څېړنیزي پاڼی غړې مینه لرو چې تاسو نه واورو او ستاسو خپرونې په خپله راتلونکی ګڼه کې شاملې کړو. مهرباني وکړې او په دي برېښناپاڼه کې له موږ سره تماس ونیسی newsletter@areu.org.af.

د افغانستان د څېړنې خبرپاڼه دري میاشتنۍ خپرونه ده چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری د کارکوونکو برندي بوییر، رویس وایلز، فریدون شارق، احمدالله امرخیل او ډاکټر جمیل الکوزی لخوا برابریږې. د افغانستان د څېړني او ارزوني اداره یو ناپاېيلی څېړنیز سازمان دي چې دپالیسیو د آسانتیاوو په منظور د تعمیل وړ مطالعې او څېړنې ترسره کوي، د افغانستان د څېړني او ارځوني ادارې د خپرونو په هکله نور معلومات په دې برېښناپاڼه کې تر لاسه کولای شی www.areu.org.af